مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین

۲۰۲۶/۰۴/۰۴

# د افغانستان په هکله د پاکستان دښمنانه پالیسي

## (دریمه‌برخه)

درنو لوستونکو د مقالې په تېرې برخه کې مو څو پوښتنې وړاندې کړې وې، چې د ټولو پوښتنو اساسي محور دا و، چې پاکستان ولې پر افغانستان او افغان ولس غیرعادلانه او ظالمانه تجاوز او هوایي بریدونه پیل کړی دي.

حقیقت خو دا دی، چې پاکستان په تېرو پنځه لسیزو کې د افراطیت د روزلو او ساتلو له لارې په ملیاردونو ډالري تر لاسه کولي او په سیمه کې یې ځان د افراطیت او اسلامي هېواد مالک ګڼه او د همدې ملکیت له لارې یې تل د هندوستان، افغانستان،منځنی اسیا او حتا د چین حکومتونه تر فشار لاندې راوستل.

څرنګه چې د دغو افراطي ډلو ملکیت یې درلود نو ځکه دغه ډلې یې تر کنترول او قوماندې لاندې هم وې. تل یې له دوی نه په سیمه کې د خپلو او بادارانو د ګټو او موخو د عملي کولو او نیابتي جګړو ته په لمن وهلو کې ترې استفاده تر سره کوله.

په افغانستان کې د طالبانو د حاکمیت د مینځته راتګ په لومړیو ورځو کې پاکستاني جرنیلانو او( ای اس ای) د خوشالۍ جامونه پورته کول، ځکه چې د دوي یې په پاکستان کې کلونه میلمه پالنه کړې وه، او هم یې د دوي په قدرت ته د رسیدلو په لار کې هلې، ځلې تر سره کړي وې، خو تشخیص او محاسبه یې برعکس انکشاف وکړ، څرګندېږي چې طالبانو د دوي مشورو او ملکیت ته ارزښت ورنه کړ.

داسې ښکاري، چې طالبانو نه یوازې دا چې د پاکستاني چارواکو او حاکمیت ته یې ارزښت ورنه کړ، بلکه له هندوستان سره چې د پاکستان ازلي دښمن دي دیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې، چې دا وضعیت پاکستاني چارواکي خورا اندیښمن کړل.

بله اساسي موضوع د پاکستان د حکومت په خاص ډول پوځي جرنیلانو نږدیوالی له امریکا او اسرایلو سره او غزې ته د پوځي ځواکونو د لیږلو تعهد په پاکستان کې د اسلامي ګوندونو مخالفت، د پاکستاني حاکمانو اسلامی هویت هم له ګواښ سره مخ کړی، د پاکستاني چارواکو دغه عمل د پاکستاني طالبانو د غزې د مسلمان ولس پر ضد عمل له امله د دوي مخالفت او جګړو نور هم زور و مومند، پنجابي حاکمیت او کرایي پوځ نه ځکه لاره ورکه شوه، چې هم یې په سیمه کې اسلامي مالیکیت له لاسه ورکړ او هم د افراطیت د کلونو مالیکیت، لیدل کېږي چې دغه دواړه مالیکیتونه د شرایطو او قراینو په کتو سره په طبعی ډول افغان او پاکستاني طالباو تر لاسه کړل.

د پاکستان کورنۍ جګړو، نا امنیو، اقتصادي ستونزو او همداسې نورو لسګونو پرالمونو پاکستاني جرنیلان د ی ته اړویستل تر څو د خپل ولس د اغوا کولو په خاطر پر افغانستان نظامي تجاوز وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پاکستان خپلو ولسونو ته د دغې ناروا جګړې د مشروعیت ورکولو له پاره د (تي تي پي ) موجودیت په افغانستان کې هسې بهانه ګرزولی، حال داچې، دغه جګړه نورې موخې لرې چې په لاندې توګه ورته اشاره کوم:

۱-شهباز شریف او د کرایي پوځ مشر د امریکا ولسمشر ترامپ ته په ټیټو سرونو وعده ورکړې چې دوي به د جګړې له لارې پر افغان طالبانو دومره فشار راولي، تر څو طالبان مجبور شي او د بګرام هوایي اډه امریکا ته په اختیار کې ورکړي.

۲-د دوی بل تعهد له امریکا سره دا دی، چې پاکستان د هوایي بریدونو له لارې په افغانستان کې د امریکا نه راپاتې شوي وسلې او مهمات په نښه کړي او له مینځه یې یوسي.

۳ -پاکستان ته د افغان دولتونو په تېره کې او یا اوس هم د طالبانو نږدیوالی له هند سره په هیڅ ډول د منلو وړ نه دي، نو ځکه دوي د جګړې له لارې فشار راوړي، چې په مذاکراتو کې پر افغان دولت دا ومني، چې له هندوستان سره هر نوع اړیکي باید د پاکستان تر نظر لاندې وي.

۴-پاکستان تل د خپلو غلطو پالیسیو له امله د افغانستان نارامي په خپله ګټهویني، حال داچې دغه محاسبه یوه غلطه پالیسي ده، ارام او پیاوړي افغانستان د ټولو ګاونډیو او په خاص ډول د پاکستان په ګټه دي، ځکه له منځنی اسیا سره تجارتي او اقتصادي راکړه ورکړه د افغانستان له لارې پاکستان ته مؤثره او ارزانه تمامیدی شي، چې باثباته افغانستان دغه اړیکي نورې هم پیاوړي کولای شي.

۵-پاکستاني جرنیلان او پنجابي واکداران یې  هڅه کوي د افغانستان او نورو ګاونډیو هېواد سره په پولو کې نا امني او تیروریستي فعالیتونه تر سره کړي تر څو د دغه هېوادونو او طالبانو تر مینځ د بې باوریو اور ته لمن ووهي، چې د چینایي اوګرو وژنه  او داسی نورې پیښې یې ښکاره ثبوت دی.

۶-د پاکستان له لورې د طالبانو د مخالیفینو په خاص ډول شمالي ټلواله او نور هېواد پلورونکو سره لیدنې کتنې د پاکستاني جرنیلانو او( ای اس ای ) بله هغه ناکامه پروژه ده چې دغه ډلې او کسان افغانانو ته نور د منلو نه دي، او د پاکستان دغه ډول فشارونه بې ثمره برېښي.

۷-پاکستان داسې بې ځایه سوچ کوي، چې پر طالبانو به د زور او فشار له لارې د دیورند د فرضي کرښې په رسمیت پیژنده یو ډول نه یو ډول تر لاسه کړي، حال دا چې دا کار ناشونی برېښي او نه هم دا د دولتونو کار دي، دا د کرښې د دواړه خواوو د ولسونو حق او صلاحیت دي.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ